# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



ليکوال او شنانډ: نظرمحمد مطمئن


۲۰ جنوری ۲۰۱۶

## د سولې څلور اړخيزې ناستې او لاسته راوړنې

د روان کال د جنوري پر ۱۱مه اسلام اباد کې د امريکا، چين، پاکستان او افغانستان د لوړپوړو چارواکو ترمنځ د افغانستان سولې اړوند ناسته وشوه. له ناستې وروسته د افغانستان له اړخه مشر مرکچي حکمت کرزي چې کابل کې کومې څرګندونې وکړې، هغه د سولې خلاف څرګندونې وې او له طالبانو يې يو ځل بيا وغوښتل چې يا خو دې د حکومت د سولې له پروګرام سره يو ځای او يا به ياد هيوادونه په ګډوه دوی ځپي، د حکومت د سولې پروګرام تر دې مهاله طالبانو څخه د تسليميدو غوښتنه کوي.

د جنوري پر ۱۸ مه نيټه د يادو څلورو هيوادونو ترمنځ ناسته کابل کې وشوه، بيا هم د ناستې په پيل کې د هيواد د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني پر طالبانو ږغ وکړ چې وسلې پر ځمکه کيږدي او د حکومت د سولې پروګرام سره يو ځای شي چې په حقيقت کې بيا هم پر طالبانو د تسليميدو ږغ وو.

د دواړو ناستو له پيل څخه مخکې او د ناستو وروسته ډيری افغان سياستوالو په ټلويزوني بحثونو، مرکو او ليکنو کې دغه ناستې د سولې اړوند هيله مندې ونه ګڼلې، ډيری د نظر خاوندانو شک ښکاره کړ چې پاکستان د سولې اړوند رښتينی نه دی، دا ډول ځينو دا هم ويل چې افغان حکومت لا هم د سولې ښکاره تګلاره نه لري او د سولې له پاره ژمنتيا او اراده نه لري.

### پر پاکستان بې باوري

په ټوله کې د پاکستان له خوا د افغانستان سولې اړوند هڅو باندې افغان ولس او افغان سياستوال بې باوره دي، يواځې لوړ پوړي دولتي چارواکي دي چې څرګندوني کوي چې پاکستان کولای شي طالبان د سولې مذاکراتو ميز ته په زور سره راکش کړي، او د دولت دننه بيا ګڼ شمير داسې منځ پوړي چارواکي شته چې پر پاکستان شک کوي. حکومتي چارواکي ښايي ځکه د سولې هيلې پاکستان پورې وتړي، چې بله لار نه لري. دوی تيار نه دي چې له طالبانو سره مخامخ بې له کوم بهرني منځګړي د سولې او جګړې اړوند مسئلې مطرح کړي؛ ځکه دوی اصلاً د سولې پر مذاکراتو نه، پر تسليمی باور لري. هغه خام باور چې پنځلس کاله افغان حکومت له کومې پايلې پرته وپاله!

د څلور اړخيزو ناستو اړوند افغان سياستوالو او ډيپلوماټانو ليکنې وکړې، چې په دې ترڅ کې په اسلام اباد کې د پخواني افغان سفير ملا عبدالسلام ضعيف ليکنه هم يادولای شو، هغه ويره ښکاره کړې چې دغسې ناستې د سولې اړوند نه بلکې د جګړې د اوږديدو په موخه کيږي، او د جګړې پلانونه پکې طرحه کيږي، هغه په څرګند ډول د افغان حکومت پر ارادې له تيرو ۱۴ کلونو راهيسې د سولې اړوند شک ښکاره کړی دی.

د سياسي چارو کارپوه، احمد سعيدي چې پخوا په دې نظر وو چې پاکستان پر طالبانو نفوذ لري، د جنوري په لومړۍ اونۍ کې اسلام اباد کې د سولې خبرو اړوند کوم کانفرانس کې له پاکستاني چارواکو او سياستوالو سره تر کتنو وروسته اوس په دې نظر دی چې پاکستان د سولې په نوم امتياز غواړي چې د ډيورنډ کرښه او پوله د افغانستان له خوا په رسميت وپېژندل شي او دا ډول منځنۍ آسيا ته د ټرانسپورټ امتياز او د هند له نفوذ څخه د افغانستان خلاصون غوښتنې لري، سعيدي خو لا دا هم وايي چې پاکستاني چارواکي او سياستوال ادعا کوي چې ولسمشر اشرف غني د هغه د حکومت په پيل کې ورسره يادې غوښتنې يو ډول منلې دې. له پاکستانيانو سره د سعيدي خبرو او د نظر بدلون پامونړ دی. سعيدي هم اوس پر دې باور دی چې پاکستان پر طالبانو کنټرول نه لري.
افغانستان کې د امريکا پخوانی سفير خليلزاد هم د اسلام اباد ناسته د سولې اړوند نهيلې هڅې بللې دي.

## سولې بهير او نوې پېښې

له څلور اخيزه ناستو مخکې، وروسته او جريان کې ځينې داسې پيښې وشوې چې بې باورې يې زياتې کړې، په مزار شريف کې د هند پر قونسلګرۍ بريد، جلال آباد ښار کې د پاکستان پر قونسلګرۍ بريد، پېښور کې د افغان ډيپلوماټ پر کور بريد او په کراچۍ کې د پاکستان استخباراتو له خوا د ۴ افغان امنيتي کسانو نيول.
دا ډول د همدې ناستو په جريان کې کابل د بريدونو شاهد وو، کابل کې چې په سبا به ناسته کيږي په هغه شپه يې راکټي بريدونه وشول، ځيني راپورونه دي چې د ايټاليا سفارت هم د همدې بريدونو له امله زيانمن شوی، او د ناستې څخه يوه ورځ مخکې جلال اباد کې د يو قومي مشر په کور کې چې نور قومي مشران هم راټول شوي وو خونړی بريد وشو، تر لس زيات افغان قومي مشران پکې ووژل شول.
د اسلام اباد ناستې وروسته د پاکستان (سرتاج عزيز اوس يوازې د بهرنيو چارو سلاکار دی) د بهرنيو چارو سلاکار، سرتاج عزيز چې د پاکستان له اړخه يې د پلاوي مشري کوله او د حکمت کرزي چې د افغانستان له اړخه يې د پلاوی مشري کوله د نظر ښکاره اختلاف وليدل شو، سرتاج عزيز وويل چې طالبانو اړوند بايد نظامي اقدامات يا نظامي عکس العمل ونه ښودل شي، برعکس حکمت کرزي وويل چې د طالبانو هره ډله که سولې ته اماده نه شي وبه ځپل شي.
دا ډول په اسلام اباد کې افغان سفير جانان موسی زي بيا وويل چې د داعش ډلې اړوند جنګيالي افغانستان ته د پاکستان له خاورې څخه را اوړي.
د جنوري پر ۱۸مه نيټه چې کابل کې څلوراړخيزه ناسته وه، د مشرانو جرګې مشر مسليمار وويل چې څوک سوله نه کوي هغوی بايد ووژل شي. هغه وويل چې له هغه چا سره سوله کوو چې سوله غواړي او څوک چې له موږ سره جګړه کوي هغوی بايد ووژل شي.
د افغان حکومت د سولې ټولې پروسې او شعارونه له تيرو ۱۵ کلونو تر دې مهاله د طالبانو د تسليمدو اجندا لري، هغه څه چې په تيرو کلونو کې يې نتيجه ورنه کړه او ممکن په راتلونکي کې هم د سولې تر نوم لاندې د طالبانو تسليميدل شوني نه وي.

## طالب سره خبرې

تر څو چې طالبانو سره مخامخ خبرې ونه شي د هغوی غوښتنې وانه وريدل شي او هغوی د جګړې يو اصلي لوری ونه منل شي د سولې خبرې ممکن کله هم نتيجه ورنه کړي، لا هم افغان حکومت طالبان د جګړې اړخ نه ګڼي او

پرخای يې غواړي چې پاکستان د جګړې اړخ وښيي چې پاکستاني چاروا کي داکار د خپل هيواد پر تاوان ګڼي. افغان حکومت لا هم چمتو نه دی چې هغه حقايق ومني، چې نور يې د انکار پر ځای د اقرار وخت رسېدلی. امريکا چې د جګړې اصلي لوری دی، د افغانستان څمکني حقايق يې ومنل، د پاکستان پر ځای يې د خپلو اسيرانو مشکل له طالب سره حل کړي؛ خو دا يوازې افغان حکومت دی چې خپلې خبرې ته اړم دی.

امريکا هم تر ډيره دا افغان حکومت خبرو ته غوږ ږدي او د حکومت ملاتړ کوي، دا ډول د جګړې د زياتوالي او اوږديدو خبر ورکوي، د اسلام اباد ناستي وروسته ولسمشر اوباما وويل چې افغانستان به په راتلونکي يوې لسيزې کې هم د تروريزم سره د جګړې ډګر وي، او ډيوېډ پټريوس بيا وويل چې په افغانستان کې بايد د ناټو هوايي بمباري زياته شي، بل لور ته امريکايي او بريتانوي پوځيان عملا د هلمند جګړه کې لګيا دي له طالبانو سره جګړه کوي، چې طالبانو ويلي چې د امريکايي عسکرو په جګړه کې بياځل ښکېلتيا به د سولې خبرې ټکنی او منحرفې کړي.

د افغان حکومت د ننه لا هم د سولې اړوند يو نظر، موقف او تګلاره نه ليدل کيږي، د غني او عبدالله تر منځ لا هم د واک پر سر ناندرې پای ته نه دي رسيدلي، د ولسمشر لومړی مرستيال دوستم له تيرو دوو مياشتو راهيسي په رسنيو او مهمو دولتي مجالسو کي نه دی ليدل شوی، ويل کيږي له غني څخه د واک پر سر مانيجن دی.

په تيرو لسو کلونو کې بېلابېل دغسې يو اړخيزې ناستې شوې او ځيني وختونه له اوسنی څلور اړخيزو ناستو هم قوي ناستې شوې، ولي ستونزه دا ده چې د جګړې يو مهم لوري هر ځل په لوی لاس له دغسې ناستو څخه محروم ساتل شوی، تر څو چې د جګړې د ښکېلو لوريو غوښتني او انديښني وانه وريدل شي، دغه ډول ناستې يواځې د ملتونو د اذهانو مغشوش کول او مصروف ساتل دي.

امريکا هغه هيواد دی چې د يو لوی ايتلاف په جوړولو سره يې پر افغانستان حمله وکړه، افغان حکومت د همدې امريکا په زور پر افغان ولس تپل شوی او پاکستان د امريکا له خوا پر افغانستان د حملې پرمهال يو له لومړنيو متحدينو د امريکا څخه دی چې د امريکا تر څنګ ودريدی، د امريکا په واک کې يې خپل هوايي ډګرونه ورکړل او امريکايي الوتکو د پاکستان له خاوري الوت کاو پر طالبانو يې بمبارد کاوو.

## منځګړي که د جګړې لوری؟

درې واړه هيوادونه (امريکا، پاکستان او افغانستان) د جګړې يو لوري ګڼلای شو، چين هيواد سمه ده چې تر دې مهاله يو ډول ځان ناپېيلی ګڼي ولي د پاکستان ګټې بيا چين ته تر افغانستان او طالب ډيرې مهمې او لومړيتوب لري، نو بيا ويلای شو چې که د سولې اړوند کومه طرحه د يادو هيوادونو په شتون کي جوړيږي هغه به د طالبانو پر زيان، د افغان حکومت په ګټه او پاکستان ته به زيات امتيازات پکي منل کيږي، ځکه امريکا او چين دواړه له پاکستان سره نږدې ملګرتيا لري او غواړي پاکستان په سيمه کي سياسي نفوذ ولري افغانستان يې د نفوذ تر ساحې لاندې وي.

که موږ د سولې په نوم بلې جګړې ته ننوځو، امريکا، چين او افغان حکومت د پاکستان غوښتني مني او د ډيورنډ پر سر معامله کيږی، داکه يواځې افغان حکومت يې ورسره ومني او يا ممکن د فشار له کبله پر طالبانو هم دا شرط منل کيږي، پرته له شکه يوې نوې او اوږدې جګړې ته ننوځو، افغان ولس به د افغان حکومت او پاکستان پر ضد دريځ نيسي او بيا به هم افغانان د سياستوالو د خامو پريکړو قرباني کيږي، په ټوله کې د سولې په نوم بله جګړه پيليږي.

د ولسمشر غني پر اراده ځکه شک دي چې پاکستان او غني دواړه د امريکا د لاربښوونو سره سم پر مخ ځي، دواړه هيوادونه د امريکا له خوښې او غوښتني پرته د افغانستان سولي اړوند خپلواکه پريکړه نه شي کولای، له همدې امله په کار ده د طالبانو ځيني ستونزمني خبرې مخامخ له امريکا سره مطرح او بحث پرې وشي.

## د حکومت نه ژمنتیا

د بهرنیو چارو پخوانی وزیر مولوي وکیل احمد متوکل وایي چي د ولسمشریزو انتخاباتو مخکي مي له اشرف غني څخه پوښتنه وکړه چي غواړي ډیري پیسي له جنګ سره ولرې او یا فقر او نیستي له سولې سره ولرې، هدف داچي که پیسي غواړي چي ولري نو نړیوالو سره به معامله کوې او جګړې ته به دوام ورکوې، خو که امنیتي تړون لاسلیک نه کړي نو پیسي به نه وی ولي سوله بیخي ممکن ده، د غني ځواب دا وو چي جنګ له پیسو سره، یعني سوله یې نفي کړه!

د پاکستان له خوا د سولي پخوانی تجربه لا هم افغانان یاد کي لري، کله چي یې د پخوانیو مجاهدینو د ځینو ګوندونو د خوښي خلاف په جینوا کي د هغوی په استازیتوب له روسانو سره معامله وکړه، هغه وخت کي هم څلور اړخیزه ناسته وه، امریکا، پاکستان، افغانستان او پخوانی شوروي اتحاد، اوس پاکستان ورته هڅي په دومره توپیر سره کوي چي داځل د پخواني شوروي اتحاد پر ځای چین د خبرو میز کي ونده لري. د پاکستان دهغه وخت د حرص او امریکا د ناسمو تګلارو له امله ده چي دا دي ۲۷ نور کلونه موږ په جګړه کي بوخت یو، او تر دي چي امریکا او ګڼ شمیر نور اروپایي هیوادونه هم افغان جګړه کي ښکېل، او نن د خپلو ماتو او تیروتنو جبران نه شي کولای.

چین ته په کار ده چي د افغانانو باور له لاسه ورنه کړي، او که افغانان پر دې پوه شول چي چین د پاکستان اړخ نیسي او پاکستان ته امتیازات ورکولو کي له امریکا او افغان حکومت سره یوه خوله دی، پرته له شکه افغان ولس به پر چین هم داسي بې باوره شي لکه پر پاکستان چي بې باوره دی، او افغانانو بې باوري له منځ وړل به بیا چین ته اسانه هم نه وي، داچي چین غواړي په سېمه کي اقتصادي پروژې پیل او چین پکي مهم رول ولري، نو چین ته په کار ده چي د سولي خبرو کي خپل ناپیلتوب وساتي او جګړې ښکېل اړخونو ته په یوه سترګه وګوري.

## د ربښتینو هڅو اړتیا

امریکا لا هم کولای شي چي د افغانستان جګړه په پوره مسؤلیت سره پای ته ورسوي، داچي د افغان حکومت ننګه پرېږدي، او د سولي ربښتیني خبرې پیل او د افغانستان د مسئلې اساسي حل ته ژمن شي، نه داچي د سولي په نوم موږ له ګاونډیو هیوادونو سره جګړې ته تېل وهي او یا د افغانانو ترمنځ د شخړو زیاتولو هڅې رواني وساتي او غواړي افغانان په خپل منځ کي د نهو نورو کلونو له پاره وجنګیږي.

امید دی چي امریکا هم نور خپل امریکایي ملت د سولي دروغجني پروسي اړوند ونه غولوي، افغان حکومت هم د افغان ولس مظلومیت ته په کتلو سره نور دغه ملت د سولي په بېلابېلو دروغجنو ژمنو مصروف ونه ساتي او پاکستان هم د افغانستان له جګړې څخه د امتیاز تر لاسه کولو له هوډ څخه تیر او په ګډه یاد هیوادونه او زموږ نور ګاونډي، سیمه ییز او نړیوال شریکان په افغانستان کي د ربښتیني او تلپاتي سولي اړوند هڅي په شریکه وکړي، تر څو د افغان ولس له کور څخه د اوږدې جګړې ټغر ټول شي.